د هغه خلکو دپاره وړیا قانوني مرسته چې غوښتنه کوي د

# کډوالۍ د دریځ

که تاسو په انټاریو کې یئ، نو قانوني مرسته انټاریو [Legal Aid Ontario] به یو وکیل ته پیسې ورکړي چې ستاسو د کډوالۍ په قضیه کې ستاسو سره مرسته وکړي.

## قانوني مرستې ته اړتیا لرئ؟



که تاسو وړتیا لرئ او داسې قانوني ستونزه لرئ چې موږ یې پوښو نو موږ به یو وکیل ته پیسې ورکړو چې ستاسو سره مرسته وکړي.

که تاسو ژباړونکي ته اړتیا لرئ، نو موږ به سملاسي ووایئ او موږ به تاسو ته یو وړیا چمتو کړو.

1.800.668.8258 ته زنګ ووهئ، له دوشنبې څخه تر جمعې د سهار له 8 څخه تر مازیګر 5 پورې

**همدارنګه تاسو کولی شئ آنلاین پر legalaid.on.ca غوښتنه وکړئ.**

## د تصدیق نامې ترلاسه کولو وروسته زه څه وکړم؟

1 تاسو به یو اته-عددي شمېره ترلاسه کړئ چې د تورو "CE" څخه به پیلېږي. (د بېلګې په توګه 12345678CE).

دا شمېره په خوندي ځای کې وساتئ. تاسو ته به یوه کاپي هم درولېږل شي.

2 **که تاسو وکیل لرئ**، نو موږ ته د غوښتنلیک وړاندې کولو په وخت د هغوی نوم راکړئ. موږ کولی شو وګورو چې دوی د قانوني مرستې کار قبلوي او تصدیق نامه نېغ په نېغه هغوی ته لیږو.

**که تاسو وکیل نه لرئ**، نو www.legalaid.on.ca وګورئ او زموږ د "وکیل وګورئ" ["Find a Lawyer"] وسیله وکاروئ.

خپل د تصدیق نامې شمېره یوازې هغه وکیل ته ورکوئ چې تاسو غواړئ ستاسو استازیتوب وکړي. د هغوی سره خبرې وکړئ ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د هغوی په استازیتوب کې هوسا ینه احساسوئ.



ستاسو تصدیق نامه **هغه تول کار** پوښي کوم چې ستاسو وکیل یا د هغوی کاري ډله اړتیا لري ستاسو د کډوالۍ په قضیه کې وکړي.

**تاسو هغوی ته پیسې مه ورکوئ.** قانوني مرسته انټاریو [Legal Aid Ontario] هغوی ته پیسې ورکوي.

## زما وکیل به څه کوي؟

- ستاسو سره مرکه کوي او په دې اړه تاسو ته لارښوونه درکوي چې خپل د قضیې د اساس (BOC) په فورمه کې څه شامل کړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو BOC بشپړ او سم وي، او دا چې تاسو پرې پوهېږئ. د لاسلیکولو څخه مخکې یې په ډېر احتیاط سره ولولئ او یوه کاپي یې وساتئ.

*قانوني مرسته انټاریو [Legal Aid Ontario] به یو ژباړونکي ته پیسې ورکړي چې ستاسو BOC ستاسو په ژبه کې تاسو ته ولولي مخکې تر دې چې لاسلیک یې کړئ.*



- تاسو ته ووایي چې ستاسو د اورېدنې څخه مخکې تاسو کوم سندونه ترلاسه کولو ته اړتیا لرئ او څنګه یې ترلاسه کړئ.
- ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو تاسو د خپلې اورېدنې دپاره چمتو شئ.
- ستاسو په اورېدنې کې ستاسو سره ګډون وکړي.

## قانوني مرسته د بل څه دپاره پیسې ورکوي؟



کېدی شي قانوني مرسته انټاریو [Legal Aid Ontario] د نورو لګښتونو دپاره هم پیسې ورکړي. په دې کې ځینې دا شامل دي:

- ✓ ستاسو د تجربو اغېز توضیح کولو دپاره طبي او/ یا روحیاتي راپورونه.
- ✓ د غونډو دپاره ژباړونکي.
- ✓ ستاسو د کډوالۍ په قضیه کې د ثبوت په توګه کارولو دپاره په انګلیسي یا فرانسوي ژبه کې د سندونو ژباړه.

**قانوني مرسته انټاریو [Legal Aid Ontario]** د انټاریو هغه اوسېدونکو ته چې په مالي توګه یې عاید ټیټ وي، د جنایت، کورنۍ، مهاجرت، کډوالۍ، او د بې وزلۍ د قانون په برخه کې قانوني خدمتونه وړاندې کوي.

نور مالومات پر legalaid.on.ca وکړئ.
بیاکتنه: فبروري 28، 2023